# امیر اهلسنت نه د شاعرئ په حقله سوال جواب

پښتو



پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوتِ اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

دا مضمون د امیر اهلسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د کتاب "کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب" او د "ملفوظات امیر اہل سنت" د مختلفو قسطونو نه اخستے شوے دے.

# امیر اهلسنت نه د شاعرئ په حقله سوال جواب

د جانشین امیر اهل سنت دعا: یا اللّٰہ پاکه! څوک چې دا رساله "د شاعرئ په حقله سوال جواب" اولولي یا واوري هغوئي د فضولیاتو نه بچ کړې او ستا او ستا د محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ذکر کښې مشغوله اوسیدونکي ژبه ورکړې-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

اَمِیرُالۡمُؤمِنِین مولائے کائنات، علیُّ المُرتَضٰی شیرِخُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: کله چې د یو جماعت په خوا تیریږئ نو په رسول اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم درودشریف لولئ. (فضل الصّلاۃ علی النبی، ص70، رقم: 80)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د شاعرئ خواهش لرونکو د پاره مدني ګلونه

سوال: که چرې یو اسلامي ورور د حضور عَلَیۡہِ السَّلَام په شان کښې شعرونه لیکل غواړي نو هغه ته به د کومو څیزونو خیال ساتل او څنګه الفاظ استعمالول پکار وي؟

جواب: اول خو مشوره دا ده چې د شعرونو د لیکلو شوق پیدا کول نه دي پکار ځکه چې عِلمِ عُرُوض باقاعده د شاعرئ یو مشکل فَن دے. دې سره سره حمد، نعت، د صحابه کرامو او اهل بیتو رضی اللہ عنہم او د دین د بزرګانو رحمھم اللہ د منقبت شعرونه لیکلو د پاره په قرآن او حدیثو د نظر لرلو سره سره د الفاظو ډیره لویه ذخیره، په فن کښې ډیره پوهه او ډیر زیات علم پکار دے. ما د ډیرو لیکونکو کلامونه کتلي دي، چې په هغې کښې ډیرې ګډې وډې وي، نه د ردیف خیال ساتلے شوے وي او نه پکښې د قافیه څه درک لګي او نه ئې وزن صحیح وي. د دې نه علاوه چې څوک واقعي شاعران وي هغوئي د دې ټولوځیزونو خیال ساتي خو د هغوئي نه هم په شرعي معاملو کښې خطا کاني کیږي، ځکه د عالم دین، [د عِلمِ عُرُوض] د فن ماهِر او ښهٔ ډیر علم لرونکے کس که شاعري اوکړي نو بیا هُم خبره په عقل کښې راځي. که چرې یو عام کس شاعري کوي نو هغه له پکار ده چې هغه خپل شعرونه په یو ماهِرِ فن عالم دین چیک کوي او د هغوئي په هدایاتو عمل کوي-

## د شاعرئ شوق که د مشهوریدو حرص!

یاد ساتئ! شاعري ډیر مصروف کوونکے کار دے، په دې کښې انسان د واه واه نه نه شي بچ کیدے او د حُبِّ جاه [یعني د مرتبے، عزت او شُهرت د خواهش] کښې ګیر شي. څوک چې الله پاک بچ کوي هغه بچ کیدے شي. زه تاسو ته د دې مثال درکووم څنګه چې څوک کلام لیکي نو هغه په هغه کلام کښې خپله مَقطَع ضرور لیکي.[1] اوس که چا د

[1] د کلام د ټولو نه آخرے شعر، په کوم کښې چې شاعر خپل تخلص ذِکر کوي- (امیرِاهلِسنّت دامت برکاتہم العالیہ)

دغه شاعر کلام اولوستو او هغې کښې ئې مقطع اونه لوسته نو هغه شاعر به په زړه کښې خفه شي بلکه که چرې برداشت ئې نکړے شوه نو وائي به هم "چې وروره! مقطع خو اولوله" چې معلومه شي چې دا کلام دغه کس لیکلے دے! په ظاهره دې نیت کښې فساد موجود دے، بیا په مقطع کښې نوم نه لیکل هم لوئي آزمائش دے، که شاعر خپل نوم اونه لیکلو نو هغه به دا خبره تنګوي چې خلقو ته به پته څنګه لګي چې دا کلام ما لیکلے دے. البته د دې خبرې خیال ضروري دے چې زما دا مدني ګلونه په بزرګانو قیاس نکړے شي څنګه چې سرکارِ اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رحمۃُاللہعلیہ مقطع کښې رضا لیکي، دغه شان نورو بزرګانو هم خپلو کلامونو کښې نومونه اچولي دي. یاد ساتئ! زمونږ بزرګانِ دین ډیر اخلاص والا وو. زمونږ دومره ظَرف چرته دے!

بعضې بزرګانو په خپلو لیکلو شوو کتابونو کښې د دې ویرې نه خپل نوم نه دے لیکلے چې هسې نه د قیامت په ورځ راته اُووئیلے شي چې آیا تا کتاب د دې د پاره لیکلے وو چې ستا نوم مشهور شي نو ستا نوم مشهور شوے وو، تا ته واه واه هم اوکړے شوه، اوس ستا د پاره هیڅ نشته! نو بیا به داسې خلق پرمخ جهنم ته غوزار کړے شي-(مرأۃالمناجیح،1/191) حدیث شریف کښې درې خلقو طرف ته اشاره ده یعني عالم، سخي او د اللہ پاک په لار کښې شهید شوے چې د دې درېو واړو نه به د دوئي د عملونو په حقله پوښتنه اوکړے شي نو دوئي ټول به د اللہ پاک د نعمتونو اقرار اوکړي او شکر به ادا کړي او وائي به چې مونږ دا خدمت کړے وو، دا سخاوت مو کړے وو، دا مو کړي وو، هغه مو کړي وو، بیا به دوئي ته اوئیلے شي چې تاسو دا هر څه د دې د پاره کړي وو چې تاسو ته عالِم، سخي او بهادر اووئیلے شي نو هغه درته وئیلے شوي دي بیا به دوئي جهنم ته غوزار کړے شي- (مسلم، ص813، حدیث:4923) حضرت مفتی احمد یار خان رحمۃُاللہِ

عَلَیْه د دې حديث لاندې فرمائي چې دا د هر عمل د پاره دے- (مرأۃالمناجیح،1/192مفهوما)

هر يو كس دِ غور اوكړي چې د نوم ګټلو د پاره به د عمل كوونكو سره څه كيږي؟ واقعي چې نوم ګټلو كښې ډيره مزه ده، هم دغه وجه ده چې ځيني خلق عطيات [چنده] وركوي نو د هغوئي خواهش وي چې د هغوئي په حقله تې وي او اخبار كښې خبر راتلل پكار دے چې ماشآءَالله فلانكي خو دومره دومره چنده او عطيات وركړي دي. ځيني خلق داسې په ښكاره كوي. نو الله پاک ښۀ پوهيږي چې د چا نيت څه دے. مونږه د چا په نيت حمله نه شو كولے. ځيني وخت د دې ښكاره پته لګي چې چنده وركوونكے فلانكے كس خپله واه واه غواړي خو ځيني وخت خيال غلط ثابت شي ځكه چاته د خپله ځانه د اندازو لګولو ضرورت نشته. مونږ له صرف ښه ګمان ساتل پكار دي. په هُم دې كښې مو خير دے-

## د الله پاك رضاغوښتل يا د خپل تعريف خواهش لرل!

دغه شان دې مُصَنِّف [يعني كتاب ليكونكے] هم غور اوكړي، شاعر دې هم غور اوكړي، مُبَلِّغ دې هم غور اوكړي، د مدني قافلے مسافر دې هم غور اوكړي. دوئي په يوه ساه كښې خپله كاركردګي ښائي، څوک وائي ما 12 مياشتې سفر اوكړو، څوک وائي 25 مياشتې سفر مې اوكړو، څوک وائي چې زه خو وقفِ مدينه يم [يعني د ديني كارونو د پاره مې ځان وقف كړے دے]! دا يقيناً چې د سعادت خبره ده زه د دوئي په حقله دا نه وايم چې دا خلق رياكار دي خو دوئي له په خپل زړه غور پكار دے چې زه دا ولے وايم؟ كه چرې د دوئي د دې خبرې اوريدو سره چا اووئيل ”واه تا خو ډيره قرباني وركړې ده“، دغه شان كه چرې چا د مُبَلِّغ بيان اوريدلو سره اووئيل ”تاسو خو واقعي چې ډير ښۀ

بیان کوئ یا چا سُبْحٰنَ الله اووئیل" دغه رنګ ئې د نعت خوان نه د نعت اوریدلو سره اووئیل: "واه سُبْحٰنَ الله ستا خومره خوږ آواز دے" یا ئې اووئیل چې "الله پاک څه خوږ آواز درکړے دے"، نو د دې خلقو په زړه کښې به څه خیال راځي. آیا د خلقو له خوا د دوئي د پاره تعریفي جملے وئیل د اُجرت حیثیت خو نه لري؟ دغه شان قراءت کوونکي قاریان صاحبان دې هم غور اوکړي چرې دوئي د تجوید ټولې قاعدے په مائیک کښې د تلاوت د پاره خو وقف کړې نه دي؟ آیا کله چې دوئي خپل لمُونځونه کوي نو په هغې کښې د تجوید د قاعدو خیال ساتي؟ آیا د دې ټولو قاعدو لحاظ صرف خلقو نه د خپل تعریف او واه واه اوریدلو د پاره خو نه کوي؟

یاد ساتئ! زما د دې ټولو خبرو مطلب هیڅ کله هم دا نه دے چې که چرې یو قاري صاحب ښۀ تلاوت کوي نو هغوئي ته دا اووئیلے شي چې "دا خو خلقو ته د ښودلو د پاره داسې لولي یا د ده زړه کښې اخلاص نشته وغیره" ښکاره خبره ده چې چاته هم د داسې بدګمانئ او په بل د حکم لګولو اجازت نشته. یاد ساتئ! الله پاک ته هر څه معلوم دي، مونږ له پکار دي چې مونږه غور اوکړو چې مونږه ولے لولو؟ ولې لیکو؟ ولې کوو؟ ولې وایو؟ ولې بیان کوو؟ ولې درس ورکوو؟ ولې په مدني قافله کښې سفر کوو؟ ولے علاقائي دوره د پاره د نیکئ دعوت کوو؟ ولے نعتونه وایو؟ ولے تلاوتونه کوو؟ ولے قرائتونه کوو؟ ولے تَهَجُّد کوو؟ ولے د نیکو اعمالو په رساله عمل کوو؟ اے کاش! مونږه هغه څه اوکړو په څه کښې چې ثواب او د رب رضا حاصلیږي. الله پاک دې مونږ ته اخلاص رانصیب کړي او د حُبِّ جاه [یعني د مرتبے، عزت او شُهرت د خواهش] نه مو دې اوساتي۔

## د ګمنامه بندګانو شان او عظمت

د حُبِّ جاه مطلب دے د خپل عزت و شُهرت خواهش کول او دا غوښتل چې زه مشهور شم، خلق زما عزت اوکړي، زما ډیره واه واه اوکړي یا په دې نیت د خپل خاندان نسبت بیانول د مثال په طور چا خپل ځان ته سیِّد اووئیلو یا ئې اووئیل چې زه د فلانکي پیر صاحب اولاد یم یا د فلانکي بزرګ سره زما نسبت راروان دے، زه دا یم، هغه یم چې خلق زما عزت اوکړي، یا زما لاسونه ښکل کړي او اووائي چې "واه ماشآءَ الله ته د فلانکي نمسے ئې یا ئې کړوسے ئې یا ئې ځوئ ئې یا اووائي چې واه ته فلانکے ئې واه". که چرې دا خپل تعارُف اونکړي نو هم ئې خواهش وي چې زما پیژندګلو اوکړے شي چې زه څوک یم؟ د چا خپل یم؟ د کومې لوئ هستئ سره زما تَعَلُّق دے؟ یا زه د کوم لوئ شخصیت سره یم. ځکه چې د هغه شخصیت په وجه هم د ده عزت کیږي. دا هم یوه خطره ده. که اوکتلے شي نو هره معامله کښې خطره شته. الله کریم دې زمونږ په حال باندې رحم اوفرمائي او د هغه ګمنامه بندګانو په خاطر دِ راباندې کرم اوکړي د کومو په حقله چې وئیلے شوي دي چې هغوئي د دروازے نه شړلے کیږي، د هغوئي هیڅ تپوس نه کیږي، چې بیمار شي نو تپوس کوونکے ئې نه وي، چې مړه شي نو جنازے له ئې خلق نه ځي. د داسې ګمنامه بندګانو په احادیثو مبارکو کښې شانونه بیان شوي دي. په ظاهره داسې ګمنام خلق څوک نه پیژني خو د هغه د پاره د رب پیژندل کافي دي یعني که بندګان ئې پیژني او که نه ئې پیژني، دې سره په هغوئي هیڅ فرق نه پریوځي، رب تعالیٰ خو ئې پیژني، د هغوئي د پاره هُم دا کافي ده. که الله اوغواړي نو داسې ګمنامه بندګان مشهورولے هُم شي. دا د هغه خوښه او مَشِیَّت دے. لِهٰذا د انبیائے کرامو عَلَیۡهِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام، صحابۂ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ، اولیائے کرامو او

علمائے کرامو رَحِمَهُمُ اللّٰه د مشهورتیا په باره کښې دا سوچ نه دي کول پکار چې دغه هستیانې ګمنامې نه وې نو دوئي ته خو به فضیلتونه نه میلاویږي! د دغه هستیانو خپل خپل مقامات دي. مشهورتیا زمونږ په شان خلقو د پاره د خطرے جال دے. چې د یو ځائے نه بچ شو نو بل ځائے کښې اونښلو. او بیا ځپله د خپل ځان د پاره مصلحتونه ګورو او ځان مطمئین کوو چې زما دا نیت نه وو، زما دا مقصد نه وو یا زما مراد فلانکے څیز وو وغیره وغیره او بعضې وخت د خپل ځان بچ کولو او د خپلو خامیانو پټولو د پاره دروغ هم وایو او دا ټول وبال د دغې مشهورتیا وي. اللّٰه کریم! دې مونږ ټول رېښتوني کړي او د همیشه د پاره دې زمونږ نه راضي شي- (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت، قسط:110)

## د شاعرۍ شوق لرل څنګه دي؟

سوال: زه د شاعرۍ سره ډیر شوق کووم، مهرباني اوکړۍ زما رهنمائي اوکړۍ

جواب: د شاعرۍ شوق ښۀ نه دے.[1] ما د شاعرانو په کلام کښې ډیرو ځایونو کښې کفریات لیدلي دي، ډیر نامور شاعران کومو ته چې په تاریخ کښې ډیر اهمیت ورکولے کیږي هغوئي هم داسې خطاګانې کړي دي چې د هغوئي د شعرونو لوستلو سره انسان سوچ کښې پریوځي چې دوئي د اللّٰه پاک او د هغه د رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شان کښې د توهین کلمات لیکلي دي. چرته ئې جنت پسې ټوقې کړې دي، چرته ئې د

---

[1] یادلرۍ چې شعرونه ځپله بد نه وي ځکه چې هغه یو کلام دے، که چرې شعرونه ښۀ وي نو هغه ښۀ کلام دے او که بد شعرونه وي نو بد کلام دے، څنګه چې د حضرت عروه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دے چې رسولِ اَکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: "شعر یو کلام دے، ښۀ شعرونه د ښۀ کلام په شان دي او بد شعرونه د بد کلام په شان دي- (سنن الکبری للبیهقي،110/5، حدیث:9181) او حضرت عائشه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا فرمائي:" ځیني شعرونه ښۀ وي او ځیني شعرونه بد وي، ښۀ شعرونه واخلئ او بد شعرونه پریږدئ- (الادب المفرد، ص235، حدیث:890) (تفسیر صراط الجنان، 173/7، 174)

فرښتو په تقدس حمله کړې ده، شاید د دغه شاعرانو په حقله چا وئیلي دي:

جہنّم کو بھر دیں گے شاعر ہمارے

[یعني زمونږ شاعران به دوزخ ډك كړي]

څكه چې څوك د داسې كفرياتو اِرتِكاب اوكړي چې په هغې د التزامِ كفر[1] حكم لازم راځي او د توبه ويستلو نه بغير مړ شو نو هغه مرتد شو او هميشه به په جهنم كښې اوسي. نن صبا هر يو كس شاعر جوړ شوے دے. داسې ډير جعلي شاعران دي چې هډو شعر جوړول نه ورځي، د هغوئي په حقله شاعر يو شعر وئيلے دے:

شاعری آتی نہیں پر شاعری کرنے لگے
شاعری چارا سمجھ کر سب گدھے چرنے لگے

شاعري څه كيا نه ده، دا يو فن دے، كه چرې تاسو له د شاعرئ فن نه درځي او تاسو شاعري كوئ نو دا داسې ده لكه تاسو چې درزي نه ئې او جامو ګنډلو ته كښينئ. د شاعر د پاره ضروري ده چې هغه په كومه ژبه كښې كلام ليكل غواړي چې هغه سره د هغه ژبې د الفاظو غټه ذخيره وي، او دې خلقو له خو اردو هم صحيح نه ورځي او نه دوئي ته دا پته وي چې "رديف"، "قافيه" او "بحر" څه ته وائي، دا خلق خو د يوې سندرې يا نعت شريف په وزن شعرونه اوليكي يا كه څوك د خوږ آواز والا نعت خوان

---

[1] د كُفر دوه قسمونه دي: (1) لزومِ كُفر (2) اِلْتِزام كُفر.- لزومِ كُفر دا دے چې كومه خبره ئې اوكړله عين كفر نه دے خو كفر ته رسوونكي وي او اِلْتِزام كُفر دا دے چې د دين د ضرورتونو (د دين د هغه مسائلو په كومو چې هر خاص او عام پوهيږي) په هغې كښې د كوم څيز واضحه خلاف كول, دا قَطْعاً اِجماعاً (يعني قطعي طور بالاتفاق) كفر دے اګر كه هغه خلاف كوونكے د كفر د نوم نه كركه كوي او د كمالِ اسلام دعوٰى كوي- (فتاوٰی رضویه، 15/431 ملخصاً) د نورو معلوماتو د پاره د دعوت اسلامي د اشاعتي اِدارے مكتبةُالمَدينه چاپ شوے كتاب "کفریہ کلمات کے بارے میں سُوال جواب" اولولئ- (شعبه فيضانِ مدني مذاكره)

وي نو هغه ترنم [يعني طرز] کښې شعرونه اوليکي او که آواز ئې ښهٔ وي نو د ترنم په وجه بے وزنه شعرونه هم په څه نه څه طريقه اُووائي او بيا په شاعرئ نه پوهيدونکي خلق هُم د هغهٔ، هغه کلام وائي حالانکه په هغې کښې د شاعرئ د فن ډيرې غلطياني وي خو دوئي ته څوک اووائي؟ که چرې څوک ورته اووائي چې ستا کلام ښهٔ نه دے نو بيا ګوره چې څه هنګامه کوي- (مدنی مذاکرہ نمبر 14)

## نعتيه شاعري کول څنګه دي؟

سوال: نعتيه شاعري کول څنګه دي؟

جواب: د صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنھم سُنَّت دي يعني د بعضو صحابهٔ کرامو مَثَلاً د حضرت حَسّان بن ثابِت رضی اللہ عنہ او د حضرت زيد رضی اللہ عنہ او نورو نه نعتيه شعرونه ليکل ثابت دي. خو دا ياد ساتئ چې نعت شريف ليکل ډير مشکل فن دے، د دې د پاره د فن ماهر عالِمِ دين پکار دے، ګني د عِلم نه لرلو په صورت کښې د رديف، قافيه او بحر (يعني د شعر د وزن) وغيره پوره کولو د پاره د خلافِ شان الفاظو استعمالولو انديښنه وي. عامو خلقو له د شاعرئ شوق ساتل مناسب نه دي ځکه چې د نثر په مقابله کښې په نظم کښې د کفرياتو د واقع کيدلو زياته انديښنه وي. که چرې د شرعي غلطو نه کلام محفوظه هم پاتې شي نو د فضولياتو نه د بچ کيدو ذِهن د ډيرو کمو خلقو وي. نن صبا چې څنګه خبرو اترو کښې فضول الفاظ استعماليږي دغه شان په "بيان" او "نعتيه" کلام کښې هم استعماليږي-

## آيا غيرِ عالِم نعت نه شي ليکلے؟

سوال: آيا غيرِ عالِم نعت نه شي ليکلے؟ او د هغه نعت لوستل او اوريدل هم نه دي پکار؟

جواب: څوک چې د اهلسنت د عالمَانو سره ناسته پاسته کوي، د شریعت ضروري حکمونه پیژني او د هرې مصرعې شرعي تفتیش د یو عالم نه کوي د هغه لیکلې او د عالمَانو نه تفتیش شوي کلام لوستلو کښې څه باک نشته. اعلٰـی حضرت،اِمامِ اَهلسنّت ، مولانا شاه امام اَحمد رَضا خان رَحمَةُاللّٰهِعلَیه د غیر عالم د نعتیه شاعرئ سخت خلاف وو۔

د اعلٰـی حضرت، امام اَحمد رَضا خان رَحمَةُاللّٰهِعلَیه د ارشاداتو خلاصه دا ده چې د جاهلو نعت لیکونکو شاعرانو کلامونه بعضې وخت د کفریاتو نه ډک وي څکه داسې کلامونه لوستونکي د نعتونو محفل ته رابلل هم جائز نه دي، داسې نعت خوانئ ته څوک لیږل هم حرام دي او داسې کلام اوریدل هم ګناه ده۔

## اعلٰی حضرت به د دوؤ نه بغیر اِرادتاً د چا (اردو) کلام نه اوریدلو

سوال: اعلیٰ حضرت به د کومو کومو شاعرانو نعتیه کلامونه اوریدل خوښول؟

جواب: نعت لیکونکي شاعران اکثر په خپلو کلامونو کښې د شریعت د حکمونو لحاظ نه کوي، په دې وجه به هغوئ رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه قصدا صرف د دوؤ شاعرانو (1) حضرت مولانا کفایت علي کافي او (2) حضرت مولانا حسن رضا خان رَحمهمَااللّٰه کلامونه اوریدل. د مکتبةُ المَدینه د 561 صفحو کتاب، "ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت" په صفحه نمبر 225 کښې دي: یو صاحب، د (حضرت) شاه نیاز احمد صاحب رَحمَةُاللّٰهِعلَیه عرس له بریلي ته تشریف راوړے وو. د اعلیٰ حضرت رَحمَةُاللّٰهِعلَیه په خدمت کښې حاضر شوو او د نعت شریف د یو څو شعرونو وئیلو خواست ئې اوکړو (یعني د نعت پاک لوستلو خواهش ئې اوکړو). (اعلیٰ حضرت ترینه) پوښتنه اوکړله: د چا کلام؟ هغوئ د (کلام لیکونکي نوم)

اووئيلو. په دې باندې هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه اوفرمائيل: د دوؤ (شاعرانو) د کلام نه بغير د چا کلام قصداً (يعني ارادتاً په خپل خواهش) نه اورم، (صرف د دوؤ يعني) مولانا (کفايت علي) کافي او (زما د ورور) حسن مياں مرحوم کلام (اورم). په صفحه 227 فرمائي: او حقيقةً نعت شريف ليکل ډير ګران کار دے حالانکه خلق ئې آسان ګڼړي، دې کښې د تُورې په تيره طرف تلل دي! که چرې زياتے اوکړي نو اُلُوهِيَّت ته رسي او که کمے اوکړي نو تَنقِيص (يعني توهين) کيږي. البته حَمْد آسان دے ځکه چې په دې کښې لاره صفا ده، چې څومره غواړي مخ په وړاندې تلے شي. غرض دا چې په حَمْد کښې يو طرف ته اَصلًا حد نشته او په نعت شريف کښې دواړه طرف ته سخت حدونه دي.

(ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص 227)

## نعتيه شاعري د هر چا کار نه دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! که چرې يو محفل کښې غير شرعي کلام لوستلے کيږي نو چې چاته پته وي په هغه واجب دي چې د هغه اصلاح اوکړي خو چې دا ئې غالب ګمان وي چې غلطئ کوونکے به اومني او که چرې د منلو اُمِّيد ئې نه وي نو سمدستي دِ پاځي [او د هغه ځائے نه دِ لاړ شي]، که چرې په کيسټ وغيره کښې ناجائزه الفاظ يا ناجائزه معاني والا شعر واورئ نو سمدستي ټيپ ريکارډر بند کړئ او آئنده د پاره هم په کيسټ کښې د هغه شعر اوريدلو نه ځان ساتئ او که چرې ممکن وي نو د نعت خوان او نعت ليکونکي شاعر وغيره د اصلاح تدبير هم اوکړئ.

## د چا کلام لوستل پکار دي؟

سوال: د کوم کوم شاعر ليکلي نعتونه لوستل پکار دي؟

جواب: د هر هغه مسلمان ليکلے شوے نعت شريف لوستل او اوريدل جائز دي کوم چې د شريعت مطابق وي. ولے چې د شريعت په رنړا کښې د کلام د [غلط او صحيح د جائزے اخستلو هر څوک صلاحيت نه لري نو خير په دې کښې دے چې د اَهلِسُنَّت د مستندو عالِمانو کلام واوريدلے شي. د اردو کلام اوريدلو د پاره د مشورے په طور د "نعت رسول" د ووه حروفو په نسبت ووه نومونه حاضر دي: ﴿1﴾ امام اهلسنت، مولانا شاه امام احمد رضا خان رحمۃُ اللّٰہِ علیه ﴿2﴾ اُستاذِ زَمَن حضرت مولانا حسن رضا خان رحمۃُ اللّٰہِ علیه ﴿3﴾ خليفۀ اعلیٰ حضرت مَدّاحُ الحبيب حضرت مولانا جميل الرحمٰن رضوی رحمۃُ اللّٰہِ علیه ﴿4﴾ شهزادۀ اعلیٰ حضرت، تاجدارِ اهلسنّت حُضور مفتئ اعظم هند مولانا مصطَفٰی رضا خان رحمۃُ اللّٰہِ علیه ﴿5﴾ شهزادۀ اعلیٰ حضرت، حُجَّةُ الاسلام حضرتِ مولانا حامد رضا خان رحمۃُ اللّٰہِ علیه ﴿6﴾خليفۀ اعلیٰ حضرت صدرُ الافاضِل حضرتِ علامه مولانا سيّد محمد نعيم الدّين مُراد آبادی رحمۃُ اللّٰہِ علیه، ﴿7﴾مشهور مُفَسّر **حکيمُ الْاُمَّت** حضرتِ مفتی احمد يار خان رحمۃُ اللّٰہِ علیه وغيره.

سوال: آيا د غير عالم شاعر د کلام لوستلو او اوريدلو هم څه صورت شته؟

جواب: که چرې د غير عالم شاعر کلام لوستل يا اوريدل غواړئ نو اول د فن يو پوهه سُني عالم نه د کلام تصديق اوکړئ. دغه شان به اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيْم د ايمان په حفاظت کښې مدد ملاؤ شي. کنې چرې داسې اونشي چې د يو کفريه شعر په معنیٰ د پوهيدلو باوجود د هغې په تائيد کښې د داد و تحسِين ورکولو په وجه د ايمان نه لاس اووينځئ. غير عالِم ته اول د نعتيه شاعرئ نه ځان بچ ساتل پکار دي او د دې اهمو مسائلو د علم نه کيدلو نه مخکښې ئې که چرې يو کلام ليکلے هم وي نو تر څو چې ئې د خپل تول

کلام د هر يو شعر د شاعرئ په فن پوهه لرونکي عالِمِ دين نه تفتيش نه وي کړے تر هغه وخته پورې د هغې د لوستلو او چاپ کولو نه اجتناب [ډډه کول] پکار دي. اعلٰی حضرت رحمۃ اللہ علیہ ډير لوئې عالِمِ دِين وو، د هغوئې د شعر هره مصرع به د قرآن او حديث عين مطابق وه، ځکه د تحديث نعمت په طور د خپل مبارک کلام په حقله يوه رباعي ارشاد فرمائي:

ہوں اپنے کلام سے نہایت مَحظُوظ — بے جا سے ہے اَلْمِنّۃُ لِلّٰہ مَحفوظ
قراٰن سے میں نے نعت گوئی سیکھی — یعنی رہے اَحکامِ شریعت مَلحوظ

(**خلاصه**: زه د خپل کلام نه ښۀ خوند اخلم ځکه چې په ما د اللّٰه پاک احسان دے چې زما کلام د فضولو خبرو نه محفوظ دے.اَلْحَمْدُلِلّٰه ما د قرآن پاک نه نعت ليکل زده کړي دي. مطلب دا دے چې اَلْحَمْدُلِلّٰه زما کلام د شريعت عين مطابق دے)

سیدی احمد رضا نے خوب لکھا ہے کلام
اُن کے سارے نعتیہ اَشعار پر لاکھوں سلام

(کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب، ص32-38)

## نعتيه شعرونه چيک کوئ

**سوال**: عالِمانو صاحبانو باندې خپل نعتيه شعرونه چيک کول ولے ضروري دي؟

**جواب**: بعضې وخت شاعران هم داسې کډې وډې خبرې کوي چې بس، ظاهره ده چې دوئې دُنيوي شاعران وي. کله کله د دوئې د نعت ليکلو شوق راپيدا شي يا ئې د حَمد بيانولو خواهش پيدا شي يا ئې د بزرګانِ دِين د منقبت ليکلو خيال پيدا شي نو د څه په ځائے څه اوليکي. دا د دوئې شعبه نه ده بلکه د عالِمانو صاحبانو شعبه ده، د يو غيرِ عالم

کار نه دے چې هغه نعت یا حَمد اولیکي. ظاهره ده چې دغه شاعرانو ته نه د اللہ پاک مُتَعَلِّق د عقائدو معلومات وي او نه ورته د نبي کریم صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د مقام او مرتبے معلومات وي، نو چې کله دوئي د مصطفے صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم شان بیانوي نو د علم نه لرلو په وجه توهین اوکړي یا مَعَاذَاللہ نعت کښې دومره ډیر زیاتے اوکړي چې اُلُوهِیَّت ته ئې اورسوي، او کله خو ښکاره کفریات هم اووائي او خلق د هغوئي کلام د نعت ګڼړلو په وجه لولي.

غیرِ عالِم شاعر دې ځان د عالمَانو صاحبانو محتاجه ساتي ګني په کفر کښې به پریوځي او خبر به هُم نه وي. شاعران صاحبان دې ما د خپل ځان مخالف نه ګڼړي او زما نه دې نه خفه کیږي، نه زما ستاسو سره مقابله ده، نه زه مشاعره کښې حِصَّه اخلم او نه زه د شاعرئ په فن زیات پوهیږم، بس څه لږ شان علم لرم په هغې ګزاره اوشي، او د کلام لیکلو نه پس حتَّی الامکان هغه چیک کووم- (ملفوظاتِ امیرِاهلِ سنت،قسط:51)

## نعت کښې "ته" یا "ستا" لفظ لیکل څنګه دي؟

سوال: آیا د سرکار عالي وقار صَلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د پاره په نعت کښې " ته" یا "ستا" الفاظ استعمالول بے ادبي ده؟

جواب: نه! ځکه چې د تعظیم او توهین دار و مدار په عُرف [رواج] وي او زمونږه معاشره کښې نعتیه کلام کښې داسې الفاظ استعمالول بے ادبي نه ګڼړلے کیږي ځکه په دې کښې هیڅ حرج نشته. نعت لیکل یو فن دے چې په دې کښې د مختلفو بحرونو په مخصوصو اوزانو الفاظ استعمالیږي چې د هغې په وجه په کلام کښې د ښائست پیدا کیدو سره سره هغه په تَرَنُّم [یعني طرز] کښې لوستل هم آسان شي. هم دا وجه ده چې د یو

شاعر په کلام کښې بدلون بلکه د يو حرف فرق کولو سره هم د کلام ټول ښائست ختم شي او په طرز کښې لوستل هم ګران شي لِهٰذا ادب په دې کښې دے چې د حضور نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شان کښې د شريعت په حدودو کښې ليکلے شوے نعتيه کلام مِن وَ عَن (يعني څنګه چې ليکلے شوے دے هم هغه شان) لوستلو سره دِ د هغې حُسن برقرار اوساتلے شي څنګه چې د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه مشهور کلام دے:

واه کيا جُود و کرم ہے شَہِ بطحا تيرا نہيں سنتا ہی نہيں مانگنے والا تيرا

(حدائقِ بخشش، ص15)

بعضي خلق دا شعر داسې وائي:

واه کيا جُود و کرم ہے شَہِ بطحا آپ کا نہيں سنتا ہی نہيں مانگنے والا آپ کا

دغه شان د ټول نعتيه کلام ښائست ختم کړي حالانکه چا چې دا کلام ليکلے دے د هغوئي عشق مصطفٰے او په بارګاه مصطفٰے کښې ادب او احترام خپل څه چې پردې هم مني. يو ځل د کراچئ په يوه علاقه کښې په يو محفلِ نعت کښې يو مشهور و معرُوف عالِمِ دين هم تشريف فرما وو، د هغوئي په مخکښې يو نعت خوان دا کلام لوستل شروع کړو خو د ادب په وجه ئې د "تيرا" په ځائے د "آپ" لفظ استعمال کړو نو په داسې کولو ئې د کلام ښائست ختم کړو، کله چې د عالم صاحب د صبر پيمانه ډکه شوه نو ارشاد ئې اوفرمائيلو: "اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه ستا نه په ادب ښۀ پوهيدلو څه ئې چې ليکلي دي هم هغه وايه"- (فيضانِ مدنی مذاکره، قسط32)

## د شاعر کلام کښې بدلون کول څنګه دي؟

سوال: بعضې شاعران د خپل کلام په آخره کښې خپل نوم سره د عاجزئ په طور بعضې

الفاظ ليکي، آيا مونږ هغه الفاظ بدلولے شو؟

جواب: بعضې وخت بزرګ حضرات د ځان د پاره د عاجزئ داسې الفاظ راوړي کوم چې مونږه نه شو لوستلے، د مثال په طور د اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رحمۃُاللّٰہِ علیہ يو شعر دے: ''کوئی کیوں پوچھے تیری بات رضا!'' د دې نه پس د شعر په بله حِصّه کښې چې هغوئي د ځان د پاره د عاجزئ کوم لفظ استعمال کړے دے هغه زه د خپل ذات د پاره وايم چې ''کوئی کیوں پوچھے تیری بات عطار! تجھ سے کُتّے ہزار پھرتے ہیں۔'' اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رحمۃُاللّٰہِ علیہ دا لفظ د عاجزئ په طور استعمال کړے دے. دې کښې زما خيال دا دے چې دا لفظ اُونه وئيلے شي، بلکه داسې اووئيلے شي: تجھ سے کِتّے ہزار پھرتے ہیں' یا تجھ سے شیدا ہزار پھرتے ہیں' یا عاشق ہزار پھرتے ہیں. يا دغه شان يو بل لفظ راوړلے شي چې په دې ځائے باندې مناسب وي او د شعر وزن هم مات نه شي. چې کله نعت خوان دا شعر وائي نو وضاحت دې کوي چې اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رحمۃُاللّٰہِ علیہ دلته د عاجزئ په طور د ځان د پاره دا لفظ استعمال کړے وو، خو ما دا بدل کړے دے.

د نن صبا نعت خوانان داسې نه وائي، البته دومره وائي چې ''د دوو ورځو ستړے يم، د دولسو ورځو ستړے يم، هره ورځ محفلونه وي، خلور خلور بجے شي'' وغيره. او چرته چې وضاحت کول ضروري وي شايد هغه وخت د هغوئي په ذهن کښې هم نه وي چې وضاحت اوکړي. دلته زه د ټولو خبره نه کووم، خو د افسوس په طور يوه خبره کووم چې چرته وضاحت کول وي هلته ئې نه کوي. بعضې وخت نعت خوان د شعرونو خلاصه بيانوي، د دې د پاره هم علم پکار دے. خاص طور د اعلٰـی حضرت امام احمد رضا خان رحمۃُاللّٰہِ علیہ د کلام په وضاحت کښې د زيات احتياط ضرورت دے، ځکه چې د

هغوئي کلام کران دے. د حَدائقِ بخشش شروحات ليکلے شوي دي. که چرې يو نعت خوان د عالِمَانو صاحبانو د ليکلو شوو شروحاتو نه وضاحت ياد کړي او بيا ئې بيانوي نو هيڅ باک نشته. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:246)

## آيا اسلامي خويندې د نعت صيغې بدلولے شي؟

سوال: يو کلام دے: ''میں مدینے چلا'' که چرې اسلامي خويندې دا ''میں مدینے چلی'' داسې اووائي نو آيا دا به غلط وي؟

جواب: د يو شاعر کلام وئيلو ته ''حکايت کول'' وائي. يعني څنګه چې هغه وئيلے دے هغه شان به ئې مونږه بيانوو. خو که چرې اسلامي خويندې ''میں مدینے چلا'' اووائي نو عجيبه به ښکاري، ځکه دوئي ته ''میں مدینے چلی'' وئيل پکار دي، خو دې کلام کښې مخکښې هم د نارينوؤ الفاظ راځي، دا به کوم کوم ځائے بدلوي!! بهر حال! ''چلا'' به ''چلی'' کول ضروري وي. ځکه چې د مونث د پاره دا استعماليږي. که چرې ''چلا'' اووائي نو اسلامي خويندې به ورپورې خاندي او توقې به ورپورې کوي. د دې نه علاوه ډير کلامونه داسې هم دي چې په هغې کښې د بدلون کولو ضرورت نه وي نو هغه لوستلے شي او لوستلے کيږي هم. ياد ساتئ! د يو شاعر شعرونه په خپل نوم کول چې ''دا ما ليکلي دي'' دروغ او خيانت دے، دا ډير عيب دار ګڼړلے کيږي او دې ته د علم غلا وئيلے کيږي. البته بعضې وخت حادثاتي طور داسې هُم کيږي چې دوو شاعرانو يو شان مصرع ليکلي وي، دې ته ادبي يعني د فن په ژبه کښې ''تَوَارُد'' وائي.

(ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:246)

## د امیر اَهلِسُنَّت ګجراتي کلامونه

سوال: تاسو د ټولو نه اوّل کوم کلام لیکلے وو؟

جواب: په اصل کښې ما ګجراتي میډیم کښې تعلیم حاصل کړے دے، چې هغه اوس دلته نشته. ګجراتي ژبه اوس دومره مظلومه شوې ده چې څوک پخپله اُووائي چې زه ګجراتي یم، نو چې کله ورسره زه د هغوئي سره په ګجراتئ کښې خبرې کووم نو بعضې وخت هغوئي حیران شي ځکه چې هغوئي داسې ګجراتي وائي څنګه چې بعضې خلق څه عجیبه شان اردو وائي. څنګه چې اردو ده، دغسې ګجراتي هم یوه باقاعده ژبه ده او ډیره ښهٔ ژبه ده. اوَّل به ما د ګجراتئ نعتیه مشاعرو کښې حِصَّه اخستله او نعتیه یا د منقبت کلامونه به مې لیکل. (په دې موقع حاجي عبد الحبیب عطاري عرض اوکړو:) تاسو خپل یو د ګجراتئ کلام خو اووائې. (امیر اهلسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَهۡ اوفرمائیل:) ما هغه شعرونه نه دي جمع کړي ځکه چې هغه وخت زما د جمع کولو ذهن نه وو. کله چې د یادولو کوشش اوکړم نو بعضې بعضې شعر رایاد شي. د یو نعت مقطع ماته یادیږي.

مانگیو چھے عشقِ نبی مانگی نہ دنیا اینڑے
مجھے عطار سمجھ دار نجر آوے چھے

(یعني د نبي عشق ئې اوغوښتلو، د دنیا دولت ئې نه دے غوښتے. ځکه ما ته عطار ډیر پوهه ښکاري)

دا زما ډیر زوړ احساس وو چې د دنیا د دولت په ځائے راته د آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مَحبَّت نصیب شي او د عشق رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذخیره راته میلاؤ شي. (دلوں کی راحت' قسط 8)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کېدونکې **د دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تېروئ ❁ د سُنّتو د تربيّت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې **عاشِقانِ رسُول** سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د **"فِکرِ مَدينه"** په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په **"مَدَني انعاماتو"** عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار **"مَدَني قافِلو"** کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فيضانِ مدينه محلّه سوداگران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com